مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۹/۰۳

# د رغېدلي ځيرکتيا په بوربوکی کې ورکه رينتيا؟

نړۍ تر دويمې نړيوالې جګړې روسته يوځل بيا د يوې لويې جګړې په لمبو کې سوزي. خو دا به د بشريت لومړۍ جګړه وي، چې د انسان تر څنګ د هغه لاس او مغزو جوړه کړې هوښياري هم په جګړه کې ښکېل ده، رغېدلي ځيرکتيا يا د تکنولوژي په ژبه AI.

د انسان مرستندويه دغه رغېدلې ځيرکتيا به ډېرې ګټې ولري، خو دا هم نوې تجربه ده، چې د بحرانونو او لويو جګړو پرمهال يې له خلکو څخه رينتيا ورکه کړې. دا ځيرکتيا د جګړې تبليغاتي ډګر ته ننوتې او داسې يو توپان يې جوړ کړی، چې خلکو ته يې منل او نه‌منل سخت دي. ايا انسان په خپل لاس د جوړې کړې هوښيارۍ يرغمل دی؟ دا ښايي د نن ورځې يوه مهمه نړيواله فيلوسوفيکه پوښتنه وي.

فيلوسوف او اقتصادپوه کارل مارکس څه باندې يونيم سل کاله مخکې انديښنه ښوولې وه، چې ماشين به چټکی د انسان ځای نيسي او که ورو ورو ماشين له انسان څخه جدا په يوه خپلواک کاري وجود بدل شي، نو انسان به د دغې ټولګي يو غړی وي، نه پرې واکمن.

تکنولوژي د ګډې يا ټوليزې پوهې محصول ده. دا د يوه انسان پوهې رامنځته کړې نه‌ده، چې هماغه انسان يې اختيار ولري. ګڼو انسانانو په اوږده زمانه کې هغې تکنولوژۍ ته يوه يوه برخه وررغولې چې اوس پرې حکومت کوي، ځکه خو د رغېدلي ځيرکتيا په زمانه کې انسان له داسې يو بريښنايي مرستندوی ديو سره مخامخ دی، چې د ژوند په هېڅ ډګر کې ځان ترې ژغورلی نه‌شي.

رواني جګړې لومړنۍ جګړې دي، چې مصنوعي ځيرکتيا هم په کې جنګيږي، د جګړې په ډګر کې د دغې ځيرکتيا د مادي و فيزيکي حضور تر څنګ په تبليغاتي ډګر کې د انسان د باورونو، درک او رينتيا پلټنې شعوري ډګر هم د AI تر درانه سيوري لاندې دی.

ميليونونو انسانانو خپل ګرځنده ټيليفونونه مخ ته نيولي او غوارې د جګړې په اړه په حقايقو پوه شي، ان هغه انسانان چې ترڅنګ يې بمونه او توغندي چوي، هم غوارې حقيقت د سکرين شاته ومومي. هره ورځ د جګړو په اړه زرګونه ويډيوګانې، غږيز او تصويري روايتونه توليديږي او کتل کيږي، رينتيا د دغو رغېدليو ويډيوګانې تر شا ورکه ده. ايا انسان لګيا دی ځان‌ته دروغ وايي؟

که انسان غوارې په تکنولوژيکو تبليغاتو خپل مخالف لاندې کړي، نو ستونزه يې دا ده، چې دوښمن يې هم تکنالوژۍ ته لاسرسی لري، ډېر بې‌وزلي او له تخنيکي پوهې لرې انسانان هم رغېدلي ځيرکتيا پېژني او پوهيږي، چې ګڼې ويډيوګانې و تصويرونه رينتيني نه‌دي، د جګړو لورې لګيا دي د مخالفانو دروغ په نورو دروغو ځوابوي او په دې توګه د مصنوعي تبليغاتو يو توپان رااالوتی. هغه انسانان چې په روانو جګړو کې وژل کيږي، ښايي د مرګ تر شيبې پورې په دې ونه‌پوهيږي، چې رينتيا څه تيريږي؟ او ان هغه توغندي و بمونه چې د ده خواته راروان دي، رينتيا دي، که په رغېدلي ځيرکتيا يې څوک ويروي؟

دوديزې مسلکي رسنۍ په څنډ دويمه او دريمه درجه معلومات خپروي، ښايي رينتيا به وايي؟ خو د دغې رينتيا څېره د تکنولوژيکو تبليغاتو د ګردلي ترشا سمه نه‌ښکاري.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د یوېشتمې پېړۍ په جګړو کې د رغېدلي ځیرکتیا ونډه څه ده؟ له مصنوعي هوښیارۍ د کارونې لپاره اخلاقي اصول ټاکل شوي که نه؟

له انسان څخه خپلواک دغه شعور له جګړو څخه د انسانانو په ژغورنه کې مرسته کوي؟ که يې په ناخبرۍ او غفلت کې ساتي؟

داسې ګڼې پوښتنې نن د نړۍ په پوهنیزو بنسټونو کې کیږي، خو ښايي له موږ افغانانو سره لاهم په دې اړه یو روښانه نړۍلید نه وي.

د افغانانو لپاره ترټولو مهمه مسئله د اوس لپاره دا ده چې له رغېدلي ځیرکتیا څخه د مثبتې ګټې اخیستنې پر لارو چارو پوه شي او پر دې فکرو عمل وکړي، چې له دغې نړیوالې ښکارندې څخه ورته زیان ونهرسیږي. د مصنوعي ځیرکتیا په مټ د رامنځته شویو اطلاعاتي بوربوکیو په ګردله کې ورک نهشي او هوښیار وي، چې په دې ډګر کې ټول رامنځته شوي اطلاعات سم نهوي. په دې برخه کې د افغان ماشومانو، پېغلکیو او زلمکیو هوښیار ساتل ډېره اړینه مسئله ده. پر سکرین د اعتیاد له ناروغیو څخه تر هربل چا افغان ماشوم او تنکی نسل ډېرزیان لیدلی شي، ځکه د افغانانو لپاره په دې برخه کې یوه تدوین شوې فرهنګي پالیسي لا هم نهشته. افغان کورنۍ ښايي په دې برخه کې خپله د خپلو ماشومانو د ژغورنې او سمې پالنې مسئولیت پرغاړه واخلي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ